# جریده میــزان

قــوه قضائیه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.

تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

چهار شنبه ۲۸ مرغومی ۱۴۰۱ ه ش ۲۵ جمادی الثانی ۱۴۴۴ ه ق ۱۸ جنوری ۲۰۲۳ م مسلسله شمېره (۲۵)


## د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان په اساس ننګرهار ولایت کې د زندانیانو د دوسیو څېړلو بهیر پیل شو

د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د جمادی الاول میاشتې په ۷مه نېټه د زندانیانو د دوسیو د څېړلو او د هغوی دوسیو ته په ټاکلي وخت د رسېدو برخه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ۱۴۴۴/۲/۲۶هـ ق نېټې د ۱۷۲ ګڼې فرمان د تطبیق په موخه د ننګرهار ولایت د استیناف محکمې، د دغه ولایت د استخباراتو، امنیه قوماندانۍ او مرکزي محبس د مسؤولینو ترمنځ ناسته ترسره شوه.

په یاده ناسته کې چې د استیناف محکمې د رئیس شیخ محمدګلاب (فاروقي) په مشرۍ جوړه شوې وه، د بندیانو د دوسیو او احوالو معلومولو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د صادر شوي فرمان په اړه تفصیلي خبرې وشوې.

د یادو خبرو په نتیجه کې د شیخ محمدګلاب (فاروقي) په مشرۍ د یادو ادارو ګډ کمېسیون جوړ شو او په (۱۴۴۴/۶/۸ هـ ق) نېټه یې په عملي ډول له مرکزي زندان څخه کار پیل کړ.

د یادونې وړ ده چې یاد کمېسیون به هره اونۍ کې درې ورځې (یک شنبه، سه شنبه او پنجشنبه) له زندانونو لیدنه کوي، هڅه به وکړي چې د زندانیانو دوسیو ته په ټاکلي وخت رسېدنه وشي او زندان کې هېڅ بندي بې برخلیکه پاتې نه شي.

## د هلمند ولایت اړوند محاکمو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم په اساس تازه ګومارنې

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ۱۴۴۴/۶/۱ هـ ق نېټې، (۳۸۸) شمېره حکم په اساس د هلمند ولایت اړوند محاکمو کې د قضائي چارو د لا بهبود او چټکتیا په موخه لاندې تازه ګومارنې ترسره شوې دي:

۱. د مرافعه محکمې د مدني دېوان مخکنی رئیس مولوي عبدالغفور د جزاء دېوان د مفتي په توګه.

۲. د مرافعه محکمې د جزاء دېوان مخکنی مفتی محترم مولوي غازي امان الله د مدني دېوان د رئیس په توګه.

۳. د مرافعه محکمې د مدني دېوان مخکنی محرر محترم مولوي محمد داود د ښاري ابتدائیه محکمې د ترافیکو دېوان د محرر په توګه.

٤. د شهری محکمې د ترافیکو دېوان مخکنی محرر محترم مولوي عبدالناصر د ناوې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د محرر په توګه.

۵. د ناوې ولسوالۍ مخکنی محرر محترم مولوي محمد جلال د مرافعه محکمې د مدني دېوان د محرر په توګه ټاکل شوي دي.

## د سترې محکمې اړوند قضائي زده کړو ریاست کې ۱۰ ورځنی قضائي سیمینار پای ته ورسېد

د سترې محکمې اړوند قضائي زده کړو ریاست کې ۱۰ ورځنی قضائي سیمینار چې په (۱۴۴۴/۵/۳۰) هجري قمري نېټه پیل شوی وؤ، پرون د سه شنبې په ورځ (۱۴۴۴/۶/۱۰) هـ ق نېټه پای ته ورسېد.

په دغه سیمینار کې چې د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د قضاتو، مفتیانو او محررینو د قضائي ظرفیت لوړونې په موخه جوړ شوی وؤ، د دوو ولایتونو (میدان وردګ او غزني) د محاکمو اړوند ۱۲۷ قضائي منسوبینو ګډون درلود.

د دغه سیمینار ګډونوالو ته د مؤظفو استادانو او شیوخ کرامو لخوا د قضاء مسلک کې عملي او نظري روزنه ورکړل شوه.

د سیمینار په پای غونډه کې د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني)، د مرکزي تمیز عالي ریاست رئیس محترم شیخ محمد شریف حقاني او د قضائي زده کړو عمومي رئیس محترم مولوي عبدالرحمن غزنوي تفصیلي ویناوې وکړې.

د سترې محکمې اداري معاون د سیمینار له ګډونوالو تر مننې وروسته د علماوو د مسؤولیت او موقف په اړه تفصیلي خبرې وکړې وویل، علماوو ته الله تعالی د دین د علم د حاصلولو په سبب عزت ورکړی، دوی یې د ځان خلیفه ګان ټاکلي او د امت رهبري یې ورسپارلې ده.

نوموړي د علماؤ مسؤولیتونو ته په اشاره وویل، د حق او باطل ترمنځ جلاوالی، د حلالو او حرامو ترمنځ تمیز او جداوالی، د خلکو رهبري، له ظالمانو څخه د مظلومانو د حقونو اخیستل، نورو مسلمانانو ته د خپلو تعلیماتو (زده کړو) رسول د علماؤ له دندو څخه دي.

محترم شیخ حقاني صاحب زیاته کړه، د الله تعالی حمد او ثنا ده چې موږ ته یې د هېواد واک سپارلی دی، موږ باید خپله علمي سطحه په واقعي ډول په عملي میدان کې ښکاره کړو، د خپل ولس ساتنې، روزنې او رهبرۍ، په خپل ولس شفقت او رحم او د خصوماتو او اختلافاتو له منځه وړلو برخه کې نهایي هڅې وکړو.

شیخ صاحب د قضاء منسب په اړه خبرو کې وویل، د قضاء مسلک زموږ او تاسو لپاره یو امتحان او زموږ وظیفه ده، په دې کې موږ او تاسو الله تعالی، د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم)، خپل امیرالمؤمنین حفظه الله او ولس ته مسؤول یو، په دې اساس باید له ځان سره قوي علماء او متوازنه رهبري ولرو.

یاد قضائي سیمینار د مرکزي تمیز عالي ریاست د رئیس محترم شیخ محمد شریف حقاني صاحب او د قضائي زده کړو عمومي رئیس محترم شیخ عبدالرحمن غزنوي صاحب تر عالمانه او تفصیلي ویناوو وروسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېد.

## جلسۀ اداری محکمۀ مرافعۀ ولایت جوزجان دایر گردید

به تاریخ ۱٤٤٤/٥/۱۷ هـ ق تحت ریاست مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس عمومی محکمۀ مرافعه با اشتراک مولوی جان محمد رئیس محکمۀ ابتدائیه شهری، رؤسا، مفتیین و محرران دواوین استیناف، دواوین محاکم ابتدائیه شهری و محاکم ولسوالی‌های ۱۰ گانۀ آن ولایت در مقر ریاست محکمۀ مرافعه جلسۀ اداری دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چندی از کلام الله مجید توسط مولوی بدرالدین عضو محرر دیوان مدنی محکمۀ استیناف آغاز گردید؛ سپس رئیس عمومی محکمۀ مرافعه طی سخنرانی اش تأکید بر آن کرد که قضاء بزرگترین منصب بوده و قاضی باید پابند به شریعت محمدی (صلی الله علیه وسلم) بوده باشند، همچنان قضات منصب خود را بشناسند که خیلی مهم بوده و خاص به رضای الله امورات خلق‌الله را انجام دهند؛ چون عالیقدرامیرالمؤمنین حفظه الله بارها تأکید کرده که پیرامون دوسیه‌های جزائی و حقوقی در میعاد معینه آن فیصله شرعی و قانونی خویش را صادر نموده؛ در صورتیکه در میعاد معینه آن فیصله صورت نگرفته باشد باید عذر شرعی و قانونی خویش را به مقام عالی ستره محکمه به صورت کتبی واضح بنویسد.

موصوف علاوه کرد، یک چیزی را باید قضات بفهمند که عذر شرعی در حال دوسیه‌ها بسیار دشوار بوده که تحریر آن بعداً برای شما مشکل خواهد بود.

وی در ادامه افزود که باید در تسلیم گیری دوسیه‌ها، دواوین استیناف و ابتدائیه شهری کوشا بوده، هرمسؤول که در دیوانها باشد باید دوسیه‌ها را تسلیم بگیرند، دیگر این که فورم دیتابیس باید در دوسیه‌ها به درستی خانه پری گردد تا ارقام آن درست در دیتابس ثبت گردد و هکذا پابندی به حاضری داشته باشند؛ چون یکی از رکن اداره پابندی به حاضری می‌باشد.

موصوف علاوه کرد که منسوبین قضائی و اداری این موضوع را مدنظر گرفته تا امورات خلق الله به سکتگی مواجه نگردد.

وی اظهارداشت که، در حل دوسیه‌ها باید تأخیر نگردد؛ چون حکم امیرالمؤمنین بوده‌است، همچنان در نواقصات باید با مواد اصولنامه اداری بوده باشد و نیز مدلل و بر مبنای اصول و قانون باشد.

رئیس محکمۀ استیناف گفت یک چیزی را قضات محترم مدنظر داشته باشند که اولاً موضوع دوسیه را به صورت اصولی تحقیق نموده، بعداً دوسیه را تسلیم بگیرند.

در اخیر جلسه با دعائیۀ خیر و فلاح توسط محترم مولوی عبدالولی «نقشبندی» رئیس دیوان جزاء استیناف خاتمه یافت.

## د اسلامي قضاء مأخذونه

**دویمه برخه:**

الله تعالی فرمایلي:

ژباړه: ((ایا انسان دا انګېرلې ده چې په همداسې حال به پرېښودل شي؟ او الله تعالی انسانان په هغه څه نه امر کوي چې د هغوی د وس څخه وتلې وي.)) [القیامة سورت، ۳۶ آیت]

دغه راز الله تعالی فرمایلي: ژباړه: ((الله هېڅ نفس ته د هغه له وس څخه پورته مسؤولیت نه متوجه کوي.)) [البقره سورت، ۲۸۶آیت]

نو د قانون او قضاء لپاره اصلي مأخذ او سرچینه هغه د الله تعالی احکام دي. او څرنګه چې پیغمبران د حکمونو د رسونې په خاطر د څښتن او بنده‌ګانو ترمنځ واسطه دي، نو د دوی خبره هم دین کې حجت او دلیل دی.

اخذلیک: تتمة النظام، ۱۸ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## بازدید رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت تخار از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های هزار سموچ و چال آن ولایت

روز دوشنبه مؤرخ ۲/جمادی الثانی/۱٤٤٤هـ ق محترم الحاج مولوی محمد صابر(حنفی) رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت تخار با معیتی محترم مولوی تاج الدین (طلحه) عضو دیوان جزاء و محترم قاری محمد انس (نوری) مدیر اجرائیه‌ی مرافعه نخست به محکمۀ ابتدائیه ولسوالی هزارسموچ و متعاقباً به محکمۀ ابتدائیه ولسوالی چال سفر کرد، امور قضائی و اداری محاکم مذکور را از نزدیک مشاهده و بررسی نمود.

رئیس محکمۀ مرافعه در این بازدید اجراآت و فیصله‌های حقوقی، جزائی و وثایق، کتاب حاضری، دفتر اندراج، کتاب ثبت فیصله‌ها، وارده و صادره محاکم ولسوالی‌های مذکور را ملاحظه و بررسی کرد و بخاطری جلوگیری از نواقصات که در امور قضائی و اداری به میان می‌آید، طبق اصول و مقررات برای آنها رهنمائی وهدایت لازم داد.

همچنان در جریان بررسی رئیس محکمۀ مرافعه و هیئت همراه‌اش ضمن بررسی از امور قضائی و اداری محاکم طی دیدارهای جداگانه که با منسوبین قضائی و اداری محاکم مذکور داشت، در پرتو اصول شریعت و مقررات امارت اسلامی به منسوبین شان رهنمائی و هدایات لازم کرد و تأکید ورزید تا پابندی به وظیفه و حاضری، اصولنامه و متحدالمآلهای ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه که در همه موارد مواصلت ورزیده را جداً در اجراآت خویش در نظر داشته و مطابق آن اجراآت شود.

موصوف تأکید کرد که قضایای حقوقی و جزائی که با محاکم مواصلت می‌ورزد بعد از قید وارده و بررسی همه جانبه طبق فرمان شماره ( ۲۸۸)، مؤرخ ۱٤٤٤/٤/۱٥هـ ق عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله که ضمیمۀ متحدالمآل شماره( ۳٦)، مؤرخ ۱٤٤٤/٥/۹هـ ق ریاست محترم عمومی دارالانشاء ستره محکمه مواصلت ورزیده‌است ظرف یک و نیم ماه فیصله نمائید؛ تا فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله عملی و مشکل خلق الله به زودترین فرصت مرفوع شود.

## محاکم ولایت بلخ طی یک هفته علاوه بر حل و فصل ۲۷۷ دوسیه، به تعداد ۳۲۷ قطعه وثایق مختلف النوع را نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت بلخ از تاریخ ۱٤٤٤/٥/۲۱ هـ ق الی ۱٤٤٤/٥/۲۸ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری، محکمۀ نظامی زون شمال و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۸۱)دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۷٥) دوسیه مکتوبی، (٦٦) دوسیه قرار قضائی و (۲۰) دوسیه فیصلۀ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه تحت کارمی‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان یک هفته به تعداد(٦۲) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (٤۰) دوسیه مکتوبی، (۲۹)دوسیه قرار قضائی و (۲۳)دوسیه فیصلۀ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۲۷) دوسیه وارد دواوین مربوطه شده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی، (۱٦)دوسیه قرار قضائی و (٥)دوسیه فیصلۀ اجراآت گردیده‌است.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۳۲۷) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده و طبق فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله قیمت آن اخذ نگردیده‌است.

## محاکم ولایت دایکندی طی یک هفته علاوه بر حل و فصل ۱۶ دوسیه، ۵۲ قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

خلاصه اجراآت دواوین محکمۀ مرافعه، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های نه‌گانۀ ولایت دایکندی از تاریخ ۱۴۴۴/۶/۷ هـ ق الی ۱۴۴۴/۶/۱۲ هـ ق قرار ذیل است:

**در بخش حقوقی:**

طی یک هفته به تعداد(۱۶) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشت.

از آن جمله (۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷) دوسیه فیصله گردیده و متباقی تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

طی یک هفته به تعداد (۲) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشت.

از آن جمله (۲) دوسیه فیصله گردیده و متباقی تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک هفته به تعداد (۵۲) قطعه وثایق مختلف النوع بعد از بررسی و طی مراحل اصولی اجراء گردیده‌است.

## محاکم ولایت فراه طی دو هفته علاوه بر حل و فصل ۱٤۹ دوسیه، ۱۵۲ قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء نموده‌است

گزارش اجراآت دواوین محکمۀ مرافعه، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌های یازده‌گانۀ ولایت فراه از تاریخ ۱٤٤٤/٥/۳۰الی ۱٤٤٤/٦/۱۲هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده‌است:

**در بخش جزائی:**

در این بخش طی دو هفته ۸۲ قضیه فیصله گردیده و در مورد ۲۸دوسیه به قرار قضائی اجراآت به عمل آمده‌است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فراه به تعداد۳۹ قضیۀ حقوقی فیصله گردیده‌است.

همچنان در بخش وثایق طی دو هفتۀ کاری به تعداد ۱۵۲ قطعه وثایق مختلف النوع بعد از بررسی و طی مراحل اصولی اجراء گردیده‌است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل ۲۰۹ دوسیه، ۱۷۸ قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده است

توحید گزارش را پور دوسیه جات وثایق ریاست محکمۀ مرافعه ولایت پروان از تاریخ ۲۸ /٥ /۱٤٤٤ هـ ق الی ۱۲ /٦ /۱٤٤٤ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۲٤) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از جمله (۱۹) دوسیه مکتوبی، (۸٦) دوسیه قرار قضائی، (۲٤) دوسیه فیصلۀ اجراآت گردیده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۷۷ ) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از جمله (۲۱) دوسیه مکتوبی، ( ۲۸ ) دوسیه قرار قضائی، (۳۱) دوسیه فیصلۀ اجراآت گردیده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

همچنان در این مدت به تعداد (۱۷۸) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده و طبق فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله قیمت آن اخذ نگردید.

## محاکم ولایت غور طی یک هفته علاوه بر حل و فصل ۱۱۱ دوسیه، ۵۲ قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات و وثایق ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت غور از تاریخ ۱٤٤٤/٥/۳۰ هـ ق الی ۱٤٤٤/٦/٥ هـ ق، شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری، محکمه نظامی زون غور و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریراست.

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک هفته به تعداد (۷٦) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرارداشت.

از آن جمله (۹) دوسیه مسترد به مکتوب، (۳۹) دوسیه به قرار قضائی و(۳۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه‌ها تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک هفته به تعداد (۳٤) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (٦) دوسیه مسترد به مکتوب، (۷) دوسیه به قرار قضائی و (۱۷) دوسیه فیصله گردیده‌است و متباقی دوسیه‌ها تحت کار می‌باشد.

و همچنان در این مدت به تعداد (٥۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده‌است.

## د پکتیکا ولایت اړوند محاکمو د ۱۴۰۱ هـ ش کال په درېیمه ربعه کې د ۵۶۵ قضایاوو په حل او فصل سربېره ۳۸۱ وثایق اجراء کړي دي

د ۱۴۰۱ هـ ش کال په درېیمه ربعه کې د پکتیکا ولایت استیناف محکمې، ښاري محکمې دیوانونو او ټولو ابتدائیه محاکمو د قضائي اجراآتو خلاصه راپور په لاندې ډول شریک شوی دی:

**ابتدائیه محاکم:**

د ۱۴۰۱ هـ ش کال په درېیمه ربعه کې د پکتیکا ولایت اړوند ابتدائیه محاکمو ته (۸۳۴) ببلا، بېلې قضیې واردې شوې، د یادو قضیو له ډلې ۴۶۴ حل او فصل شوې او نورې تر کار لاندې دي.

**ښاري محکمه:**

د ښاري محکمې دیوانونو ته د ۱۴۰۱ هـ ش کال په درېیمه ربعه کې (۱۴۸) قضیې وارېدې شوې دي، له دې جملې څخه ۳۷ یې حل او فصل شوې او پاتې تر کار لاندې دي.

**استیناف محکمه:**

د استیناف محکمې دیوانونو ته د ۱۴۰۱ هـ ش کال په درېیمه ربعه کې (۱۳۵) قضیې واردې شوې، له دې جملې ۶۴ یې حل او فصل شوې، پاتې نورې تر کار لاندې دي.

**اجراء شوي وثایق:**

د ۱۴۰۱ هـ ش کال په درېیمه ربعه کې د پکتیکا ولایت اړوند محاکمو په مجموعي ډول (۳۸۱) ببلا، بېل وثایق اجراء کړي دي.

## د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس او ورسره مل پلاوي د ځمکنیو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته سفر وکړ

د روان ١٤٤٤ هـ ق کال د جمادی الثاني میاشتې په څلورمه نېټه د پکتیا د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد) او ورسره مل پلاوي (د مرافعه محکمې د تحریراتو آمر قاري میرزامحمد رشیدي او د مرافعه محکمې اجرائیه مدیر ملنګ جان ملکزاده) د ځمکنیو ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې رئیس د یادې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې له قاضي، مفتي او محرر سره وکتل، د دوی قضایي ستونزې یې واورېدې او د اجراآتو ارزونه یې وکړه.

د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس د ځمکنیو ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې پر مسؤولینو سربېره د دې ولسوالۍ له ولسوال الحاج مولوي عزت الله (مخلص)، امنیه قوماندان، جنایي مدیر، د امربالمعروف مدیر، د حقوقو مدیر او د ولسوالۍ له نورو اداري کارکوونکو سره وکتل.

یادو مسؤولینو ته یې په ولسوالۍ کې د اسلامي شریعت پر تطبیق، ښې حکومتولۍ، د ادارو ترمنځ پر همغږۍ، له خلکو سره په ښه رویه، د خلکو ستونزو ته په وخت سره رسېدنې او خلکو ته د سهولتونو پر برابرولو ټینګار وکړ.

په یاده ناسته کې یې د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې ریاست قضائي پرسونل ته جدي سپارښتنه وکړه چې د خلکو ستونزې او د عواوې اسلامي اصولو او د اسلامي امارت د محاکمو اصولو ته په کتو سره حل او فصل کړي، هېڅ فشار دې په ځان نه مني، د هېڅ فرد تر تاثیر لاندې دې نه راځي او حق دې حقدار ته وسپاري.

د سفر په پای کې د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس د ځمکنیو ولسوالۍ له مشرانو او اوسېدونکو سره وکتل، د هغوی ستونزې او شکایات یې واورېدل او د هغوی د مشکلاتو د حل ډاډ یې ورکړ، د ځینو کسانو شکایات یې وڅېړل او حل یې کړل.

دغه راز د استیناف محکمې رئیس په خپلو خبرو کې وویل، هر کله چې تاسو ته د قضاء په برخه کې مشکل رامنځته کېږي، د مرافعه محکمې دروازه ستاسو پر مخ خلاصه ده، ستاسو ستونزې به د مرافعه محکمې ریاست لخوا اورېدل کیږي او د حل لاره به ورته لټول کېږي، د ځمکنیو ولسوالۍ مشران او ولسونه د پکتیا د مرافعه محکمې له رئیس نه خوښي څرګنده کړه او د زړه له تله یې د نظام د بقاء دعا وکړه.

په پای کې د ځمکنیو ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې غړیو، ولسوال او نورو اداري مسؤولینو، د ځمکنیو ولسوالۍ مشرانو او خلکو د مرافعه محکمې له رئیس او ورسره مل پلاوي څخه د زړه له تله مننه وکړه او د یاد سفر نتیجه یې مثبت وبلله.

## د روزګان د مرافعه محکمې رئیس د خاص روزګان له ابتدائیه محکمې لیدنه وکړه

د روزګان ولایت د استیناف محکمې رئیس شیخ مولوي سخیداد (ابوالتقي) او د یاد ریاست اجرائیه مدیر محب الله (نظري) د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د جمادي الثاني میاشتې په ۱۱مه نېټه د دغه ولایت د خاص روزګان ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې او نورو اداري مسؤولینو او عامو خلکو سربېره د دې ولسوالۍ له زندان څخه لیدنه وکړه.

د روزګان ولایت د مرافعه محکمې رئیس په دې لیدنه کې د خاص روزګان ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې قاضي، مفتي او محرر ته د قضائي چارو د ښه تر سره کولو برخه کې لازم هدایات وکړل وویل، د خلکو عرایضو ته دې په ټاکلي وخت رسېدنه وشي، د خلق الله کارونه دې په شفاف ډول په خپل وخت حل او فصل شي.

محترم شیخ سخیداد (ابوالتقي)یادونه وکړه چې د خپلو ترسره کړو فعالیتونو ربعوارو راپورونو، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست متحدالمآلونو، د مرافعه محکمې مکتوبونو او احکامو ته دقیقه توجه وکړئ، په ټاکلي و خت مرافعه ریاست ته د خپلو اجراآتو خبر ورکوئ او راپورونه مو په ښه ډول راواستوئ؛ تر څو اطاعت پر ځای او د مراجعینو ستونزې په خپل وخت سره حل شي.

د یاد ریاست اجرائیه مدیر محب الله (نظري) د ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د اداري بخش کارکوونکو ته د صادرې او واردې، رسیداتو او اندراج اړوند لازمې لارښوونې وکړې.

د روزګان ولایت د استیناف محکمې رئیس په یاده لیدنه کې ګډونوالو ته وویل چې د ولسوالۍ له نورو چاراوکو سره نېک برخورد وکړي تر څو اسلامي امارت قوي او متحد پاته شي.

د خاص روزګان د ابتدئیه محکمې قاضي، مفتي او محرر د استیناف محکمې له رئیس سره ژمنه وکړه چې ان شاءالله ستاسو ټولې خبرې او سپارښتنې به عملي کوو او خپل قضائي امور به په صداقت ترسره کوو.

وروسته محترم شیخ سخیداد (ابوالتقي) د ولسوالۍ له محبس څخه لیدنه وکړه او د ټولو بندیانو مشکلات یې واورېدل او بندیانو ته یې ډاډ ورکړ چې ان شاءالله دوسیې به یې ژر څېړل کیږي.

نوموړي د محبس مسؤولینوته وویل، بندیانو سره باید ښه چلند وکړئ.

ورپسې د مرافعه محکمې رئیس شیخ مولوي سخیداد (ابوالتقي) د خاص روزګان له ولسوال او امنیه قومندان سره لیدنه کې په بېلا بېلو اړوند موضوعاتو خبرې وکړې، ولسوال او امنیه قومندان د استیناف محکمې له رئیس سره ژمنه وکړه چې ان شاءالله په ټولو اړوند برخو کې به له محاکمو سره بشپړه همکاري کوي.

دغه راز محترم شیخ ابوالتقي د یادې ولسوالۍ له اوسېدونکو، علماؤ او قومي مشرانو سره ولیدل، د هغوی مشکلات یې واورېدل او ډاډ یې ورکړ چې ستاسو ټول مشکلات به ان شاءالله د شریعت په رڼا کې حل او فصل کوي.

د سفر په پای کې شیخ سخیداد (ابوالتقي) د خاص روزګان ولسوالۍ اړوند شیش فر کلي کې چې د دوو قومونو ترمنځ د ځمکې پر دعوه وه، له هغې ځمکې هیئتي وکړه او د هغوی موضوع یې له نږدې څخه ولیده.

## رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ نیمروز از محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی دلارام و خاشرود آن ولایت بازدید به عمل آورد

به تاریخ ۳۰/جمادی الاولی/١٤٤٤ هـ ق محترم شیخ مولوی عبدالخالق «امدادالحق» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت نیمروز با معیتی محترم مولوی الله یار»حلیم» رئیس دیوان امنیت عامهٔ مرافعه، محترم مولوی محمد نسیم «قصیر» رئیس دیوان مدنی و حقوق عامهٔ مرافعه، محترم مولوی عبدالله عضو محرر قضائی دیوان جزاء مرافعه، محترم مولوی سمیع الحق «آخندزاده» عضو محرر قضائی آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، نماینده‌گان مقام ولایت و ریاست استخبارات عازم ولسوالی‌های دلارام و خاشرود آن ولایت گردیده و به مدت ۳ روز از ادارات مربوطهٔ ولسوالی‌های مذکور دیدن نمود.

نخست رئیس محکمهٔ مرافعه در ولسوالی دلارام با مسؤولین ادارات ذیربط جلسهٔ تشکیل داد؛ سپس در این جلسه محترم شیخ امدادالحق هدف از تشکیل این گردهمائی را نظارت و ارزیابی از عملکرد اجراآت ادارات ما تحت و ذیربط و همچنان استماع شکایات مردم و پیشنهادات شان دانست.

متعاقباً رئیس محکمهٔ استیناف پیرامون وحدت، اتفاق، حسن برخورد با مردم و زندانیان صحبت نموده و خاطر نشان کرد؛ این ملت است که در شرایط سخت دوشادوش مجاهدین ما را یاری میرساندند، اکنون این ملت منتظر ارایهٔ خدمات از طرف همین مجاهدین و مسؤولین اند؛ بناءً بالای ما لازم است تا از هیچ تلاشی دریغ نکنیم.

در این جلسه به هیئت قضائی ولسوالی مذکور توصیه گردید تا دوسیه‌ها را به موقع و با دقت تمام رسیده‌گی نمایند؛ زیرا رسیده‌گی درست و دقیق به قضایا حق مردم مسلمان ما می‌باشد و هدایت داد تا به مشکلات مراجعین سریعاً رسیده‌گی، از غفلت و اهمال در روند رسیده‌گی به قضایای جداً خودداری شود و تحقیقات همه جانبه پیرامون قضایا به انجام رسد.

در اخیر بعد از استماع شکایات حاضرین جلسه با دعائیه‌ی خیر خاتمه یافت.

## رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب از اجراآت یومیهٔ محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های قرمقول و قرغان نظارت به عمل آورد

به تاریخ ١٤٤٤/٥/٢٦ هـ ق محترم مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت فاریاب و محترم مولوی نعمت الله «ذاکر» رئیس دیوان جزاء مرافعه همراه با هیئت معیتی شان غرض بازدید و نظارت از اجراآت یومیه به محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های قرمقول و قرغان سفر نمود.

نخست رئیس محکمهٔ مرافعه از حاضری و روند چگونگی رسیده‌گی به عرایض مراجعین نظارت به عمل آورد؛ تا از حضور در اوقات رسمی منسوبین محاکم و روند رسیده‌گی به دعاوی و عرایض عارضین اطمینان حاصل گردد.

سپس رئیس محکمهٔ مرافعه ضمن توصیه و رهنمائی‌های لازم برای قضات، مفتی‌ها و محررین محاکم متذکره با آنها بطور جداگانه ملاقات نموده و بخاطری بهبود روند رسیده‌گی به دوسیه‌جات حقوقی و جزائی به موارد ذیل تأکید صورت گرفت:

۱. چندی قبل عموم قضات و اعضای شان در سیمینار ۱۰روزه اشتراک نموده بودند؛ که رهنمائی‌های لازم از طرف علماء کرام برای شان صورت گرفته‌است کوشش نمایند تا مطابق هدایات و رهنمائی‌های که شده‌اند اجراآت یومیه خویش را مطابق آن تنظیم نمایند.

۲. قضات محترم و اعضای قضائی محاکم نهایت کوشش نمایند تا فیصله‌های خویش را به میعاد معینه مطابق احکام شریعت و قوانین نافذهٔ امارت اسلامی افغانستان صادر و از التوای دوسیه‌ها جلوگیری به عمل آید، فیصله‌های صادره محاکم باید مستدل و حواله در نص فیصله و قرار تذکر داده شود.

۳. به تعداد (٤)جلد دوسیه مختلف النوع از ولسوالی قرغان و به تعداد (٥)جلد دوسیه مختلف النوع از بخش جزائی و حقوقی ولسوالی قرمقول و نیز به تعداد (۱۰) جلد کنده وثایق مختلف‌النوع در ولسوالی‌های متذکره بررسی شد.

در ختم بررسی از اجراآت محاکم متذکره محترم مولوی عبدالغنی «سعید» به خاطر تسریع روند رسیده‌گی به قضایای وارده به مسؤولان محکمهٔ ابتدائیه قرمقول و قرغان توصیه و رهنمای‌های لازم نموده و نیز در حصه پابندی به حاضری، ترتیب راپور اجراآت وثایق مختلف النوع، ترتیب اثر به مکاتیب که جواب طلب بوده و برخورد سالم با مراجعین تأکید نمود.

## د لوګر ولایت د مرافعه، ښاري او ولسوالیو محاکمو د رئیسانو ترمنځ اداري ناسته ترسره شوه

په ١٤٤٤/٦/١هـ ق نېټه د لوګر ولایت د استیناف محکمې په ریاست کې د دې محکمې د سرپرست رئیس محترم مولوي فضل الرحیم (عابد) په مشرۍ د محاکمو د مسؤولینو ترمنځ اداري ناسته ترسره شوه.

یاده غونډه چې د استیناف محکمې، ښاري او ولسوالیو ابتدائیه محاکمو رئیسانو په کې ګډون کړی و، د کلام الله په تلاوت او د الله (جل جلاله) په ثنا اوصفت سره پیل شوه، ورپسې د استیناف محکمې رئیس حاضرینو ته د قضائي او اداري مسؤولیتونو په اړه لازمې او مهمې سپارښتنې وکړې.

نوموړي وویل، په محاکمو کې د کار ډېرښت د دې ښکارندویي کوي چې ولس د اسلامي امارت په قاضیانو د عدالت باور لري، په همدې خاطر هره وړه او غټه ستونزه تر محکمې رارسوي او له محاکمو یې حل غواړي، موږ باید خپل ولس ناهیلی نه کړو او تر خپله وسه دوسیې په چټکتیا، ځیرکتیا او د اسلامي شریعت په رڼا کې حل کړو.

نوموړي مسؤولینو ته لارښوونه وکړه چې په کار کې دې پوره اخلاص کوي او د خپل کار یوازینۍ موخه دې د الله (جل جلاله) رضا او دې ځورېدلي ولس خدمت وګرځوي.

ورپسې د استیناف محکمې، ښاري او ولسوالیو ابتدائیه محاکمو رئیسانو په نوبت خپلې ستونزې د استیناف محکمې له رئیس او د ناستې له حاضرینو سره شریکې کړې چې د حل په موخه یې د قضائي رئیسانو ترمنځ پراخ بحث ترسره شو.

په پای کې دوی ته ډاډ ورکړل شو چې د قضائي تشکیل د منسوبینو ټولو ستونزو ته به د امکان ترحده رسېدنه کوي او د کارونو د چټکتیا او تنظیم لپاره به ټول لازم امکانات ورته برابروي.

د غونډې اختتام حاکم اسلامي نظام ته د بقاء او د مسؤولیتونو د ښه ترسره کېدو لپاره په دعا سره وشو.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لااله الاالله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي







## جلسهٔ هماهنگی بین ارگان‌های عدلی، قضائی و اجرائیوی در ولایت کاپیسا تدویر یافت

جهت هماهنگی و رفع مشکلات بین ادارات عدلی، قضائی و اجرائیوی به تاریخ ۱۴۴٤/٦/۱۰هـ ق تحت ریاست محترم مولوی میرآقا مشهور به ذبیح الله «خالد» رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا به حضورداشت نماینده‌گان محترم ریاست‌های زراعت و عدلیه، رؤسا و اعضای دیوان مدنی و حقوق عامهٔ محکمهٔ مرافعه و شهری کاپیسا دائر گردید.

جلسه با تلاوت چندی از آیات قرآن عظیم شان توسط محترم مولوی عبدالمنان «عابد» مفتی دیوان مدنی و حقوق عامهٔ محکمهٔ مرافعهٔ کاپیسا آغاز گردید.

بعداً رئیس محکمهٔ مرافعهٔ کاپیسا تشریف آوری حاضرین جلسه را خیر مقدم گفته و با سخنان عالمانهٔ خویش، تدویر و مؤثریت همچون جلسات را بیان داشته گفت که جلسات هماهنگی باید در ماه یک بار دائر گردد؛ اما نسبت تراکم کاری که در محاکم ولایت کاپیسا موجود است کوشش صورت بگیرد تا هر دو یا سه ماه بعد جلسه بین ارگان‌های عدلی، قضائی و اجرائیوی داشته باشیم. بعداً مفتی عبدالرؤف»سعادت» محکمهٔ شهری کاپیسا روی موضوعات مختلف طبق آجندای جلسه صحبت نمود گفت که کمیسیون جلوگیری از غصب زمین‌های امارتی کاپیسا باید از اجراآت خویش محاکم کاپیسا را اطلاع بدهد؛ تا محکمه آگاهی داشته باشد که این کار باعث جلوگیری از ضیاع وقت و سرگردانی اصحاب دعوی میشود. همچنان گفت که به دوسیه‌های که از طریق دواوین مدنی و حقوق عامهٔ محکمهٔ شهری کاپیسا غرض تحقیق ملکیت امارتی از غیر امارتی طبق هدایت متحدالمآل شماره(٢٤)، مؤرخ ١٤٤٤/٣/١٠هـ ق ستره محکمه ارسال میگردد، سریعاً رسیده‌گی شود؛ تا محکمه به موقع اجراآت لازم را مرعی نماید.

متعاقباً روی آجندای جلسه بحث صورت گرفت که فشردهٔ آن ذیلاً تحریر میگردد:

۱. به آمریت قضایای امارت ریاست محترم عدلیه کاپیسا هدایت داده شد؛ قسمیکه اداره مذکور در جریان قرار دارد، بنا بر هدایت متحدالمآل شماره (٢٤)، مؤرخ ١٤٤٤/٣/١٠هـ ق ریاست عمومی دارالانشأ ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان و اصل محاکم است که (هرنوع دعوی عقار که به محکمه مواصلت می‌ورزد باید از قضایای امارت در مورد تفکیک زمین امارتی و غیر امارتی پرسش صورت بگیرد)؛ بناءً قضایای امارت با دقت تمام توجه جدی نماید تا دوسیه‌های که از محاکم کاپیسا جهت تفکیک زمین امارتی از غیر امارتی به زودترین فرصت ممکن تحقیق نموده و محکمه را از اجراآت خویش اطمینان دهد.

۲. به آمریت حقوق ریاست محترم عدلیه کاپیسا هدایت داده شد که در ترتیب دوسیه‌های که از این طریق به محکمه ارسال می‌گردد باید در ترتیب اوراق دوسیه طرفین دعوی و فورم ضمانت دقت کامل صورت بگیرد تا حق کسی ضایع نگردد.

علاوه بر این مولوی روح الله»روحانی» رئیس زراعت ولایت کاپیسا در مورد اجراآت کمیسیون جلوگیری از غصب زمین‌های امارتی (سلطانی) به اعضای محترم جلسه معلومات داد و گفت که بررسی ما در دشت ریگروان مرکز کاپیسا به اتمام رسیده که عنقریب محکمهٔ محترم را در جریان قرار خواهیم داد.

همچنان بخاطری ایجاد محکمهٔ اختصاصی جهت رسیده‌گی به دوسیه‌های دعوی غصب میان اشخاص و دولت در این ولایت به مقامات مراجع مرکزی پیشنهاد نمودیم که در ولایت کاپیسا ضرورت جدی احساس میگردد.

به همین ترتیب حاضرین جلسه روی یک سلسله موضوعات و کمبودی‌های که در مسیر کار روز مره شان به وجود آمده بود صحبت نمودند و در اخیر محترم مولوی میرآقا مشهور به ذبیح الله»خالد» رئیس محکمهٔ مرافعه کاپیسا جلسه را جمع بندی نموده و در قسمت طرح و پیشنهادات هر یک از شاملین مجلس رهنمائی و هدایت لازم داد.

جلسه با دعائیهٔ خیر و اسقرار صلح سرتاسری در کشور توسط مولوی ذبیح الله»خالد»رئیس مرافعهٔ کاپیسا خاتمه یافت.

## میان ارگان‌های قضائی، عدلی و اجرائیوی ولایت هرات جلسهٔ همآهنگی راه اندازی شد

روز دوشنبه مؤرخ ١٤٤٦/٦/٢هـ ق مطابق با ١٤٠١/١٠/٢ هـ ش تحت ریاست محترم شیخ عبدالله «قادری» رئیس عمومی محکمهٔ استیناف با اشتراک محترم شیخ نوراحمد «اسلامجار» والی ولایت، محترم شیخ عزیزالرحمن رئیس امر بالمعروف و نهی عن المنکر، محترم شیخ بشیراحمد رئیس شورای علماء، محترم مولوی عبدالکریم رئیس استخبارات، محترم مولوی عبدالقیوم «روحانی» معاون مقام ولایت، محترم حاجی یاسر قوماندان امنیه، محترم مولوی خدایرحم «خدام» رئیس محکمه ابتدائیه شهری، محترم مفتی عبدالمنان «مهاجر» رئیس دیوان امنیت عامهٔ استیناف و محترم مفتی سید احمد «معتصم» رئیس دیوان جزاء استیناف در مقر ریاست محکمهٔ استیناف جلسهٔ همآهنگی ارگان‌های عدلی، قضائی و اجرائیوی آن ولایت دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چندی از کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس رئیس محکمهٔ استیناف تشریف آوری حاضرین جلسه را خیر مقدم گفته و با سخنان عالمانهٔ خویش تدویر جلسات همآهنگی را غرض پیش برد امورات محوله و ایجاد همبستگی بهتر بین ادارات محترم ولایت هرات یک امر حتمی دانست و فرمود که جلسهٔ همآهنگی در هر ١٥ روز بین ارگان‌های عدلی، قضائی و اجرائیوی دایر گردد؛ که موضوع مورد تائید حاضرین جلسه قرار گرفت.

متعاقباً روی موضوعات شامل آجنداء جلسه بحث و تبادل و نظر صورت گرفت و تصامیم لازم اتخاذ گردید و جلسه با دعائیهٔ محترم شیخ عزیزالرحمن رئیس امر بالمعروف و نهی عن المنکر خاتمه یافت.

## رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت کندز از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های چهار دره و علی آباد بازدید به عمل آورد

یوم دوشنبه مؤرخ ١٤٤٤/٦/٢ هـ ق محترم مولوی نور محمد «نوری» رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت کندز با همراهی محترم مولوی حبیب الله «مسلمیار» رئیس دیوان امنیت عامهٔ استیناف از ریاست محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی چهاردره و ریاست محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی علی‌آباد بازدید نمود.

در این بازدید از چگونگی حاضری پرسونل قضائی و اداری محاکم فوق الذکر ارزیابی صورت گرفت، ضمناً به اندراج دوسیه‌های تحت دوران وکنده‌جات وثایق مختلف النوع نظر اندازی گردید. رئیس محکمهٔ استیناف طی جلسات جداگانه پرسونل قضائی محکمهٔ چهاردره و محکمهٔ علی آباد را مخاطب قرارداده در تطبیق صد در صدی قوانین شرعی و مصوبات ریاست محترم دارالانشاء مقام عالی ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان، برخورد خوب با مراجعین، حل و فصل قضایای وارده در مواعید اصولی و تأمین عدالت و مبارزه با هر نوع فساد اداری در روشنائی قوانین شرعی و اصولی توصیه نموده آنها را متوجه مسؤولیت خطیر قضائی شان ساخت، تا در راه جلب اعتماد مردم با ارگان قضاء از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزند.

در اخیر پرسونل قضائی و اداری محاکم مذکور تعهد و وعده سپرده‌اند که وظایف شان را مطابق قوانین شرعی و رهنمائی‌های مقام عالی ستره محکمهٔ انجام میدهند و بر تعهدات شان ثابت قدم می‌باشند.

میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳